ایا نه به يې حرامول هغه څه چې الله به حلال کړي و او تاسو به بيا هغه حرام ګڼل، او حلالول به يې هغه څه چې الله به حرام کړي و او تاسو به حلال ګڼل؟ نو ما وويل: هو خبره همداسې وه : ويې ويل: همدا يې عبادت دی.

له عدي بن حاتم - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې هغه له نبي - صلی الله عليه وسلم - څخه واوريدل چې دا آيت يې لوسته: "اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ" 9-31 دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير واکداران د حل او د حرمت نيولي دي او د مريم زوی مسيح (يې هم) معبود نيولای، حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت کوي چې نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريکوي. - وايي - نو ما ورته وويل: مونږ د هغوی عبادت نه کوو، ويې ويل: آيا هغوی نه حراموي هغه څه چې الله حلال کړي دي، او بيا يې تاحرام ګڼئ، او حلالوي هغه څه چې الله حرام کړي دي او بيا يې تاسو حلال ګڼئ؟ نو ما وويل: هو : ويې ويل: همدا يې عبادت دی.

[صحيح] [ترمذی روايت کړی دی]

کله چې دې جليل القدر صحابي له رسول الله - صلی الله عليه وسلم - څخه د دې آيت تلاوت واوريده چې د يهودو او نصاراو په اړه پکې وضاحت شوی دی: چې دوی خپل علما او عابدان خپل معبودان جوړ کړي، هغوی ورته هغه څه روا کوي چې د الله د شريعت سره په ټکر کې وي، او بيا يې په هغې کې اطاعت هم کوي، نو د دې آيت معنا باندې - صحابي - پوه نه شو، ځکه هغه ګمان کاوه چې عبادت يوازې سجده کول او داسې نور - کارونه - دي، تر دې چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - ورته وضاحت ورکړ چې : د يهودو د علماوو او مسيحی عابدانو له عبادت څخه دا دي چې : دوی يې اطاعت کوي د حلالو په حرامولو او حرامو په حلالولو سره، د الله - تعالی - او د هغه د رسول - صلی الله عليه وسلم - د حکم خلاف.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3384